لوړو زده‌کړو وزارت
شیخ زاید پوهنتون ریاست
محصلانو چارو معاونیت
محصلانو چارو آمریت

## د جدیدالشمول محصلانو لپاره د خدماتو لارښود:

### د جدیدالشمول محصلانو د ثبت نام پروسه:

- د کانکور په آزموینه کې بریالی شوی هر محصل د محصلانو چارو معاونیت اړوند د ثبت او رجسټر عمومي مدیریت، شیخ زاید پوهنتون سایټ او د محصلانو چارو معاونیت له فېسبوک‌پاڼې پوهنځي ته د شمولیت له پاره د ثبت‌نام خبرتیا او مهال ویش ترلاسه کوي.
- محصل د ثبت نام د مهال ویش سره سم اړوند پوهنځي یا محصلانو چارو معاونیت ته د خپلې اصلي تذکرې او کانکور ازموینې آیي ډي سره حاضرېږي. ټاکل شوي کارمندان په HEMIS سیستم کې ثبت نام ورته کوي او د تدریس په موخه یې اړوند پوهنځي ته معرفي کوي.
- د ثبت‌نام پر مهال محصل  ته د پوهنتون د اصولو اړوند ژمن لیک ورکول کېږي. محصل ژمن لیک لاسلیک کوي او د برحال محصل په توګه یاد ژمن‌لیک ته ژمن پاتې کېږي.
- محصل د محصلانو چارو معاونیت یا اړوند پوهنځي تدریسي مدیریت ته خپل د محصل لاسلیک شوی ژمن‌لیک سپاري.
- د محصلانو چارو په معاونیت کې د نوم ثبتوني پاڼه چې د HEMIS سیستم له مخې ترلاسه کېږي، طی مراحل کېږي او اړوند پوهنځي ته رسمي لیږل کېږي.
- د اړوند پوهنځي تدریسي مدیریت یې د ټولګیو د حاضرۍ په کتابونو کې د محصل شهرت لیکي او د برحال محصل په توګه پېژندل کېږي.

### د تاجیل پروسه:

- هر برحال محصل د تحصیل په خپله دوره کې یو ځل کولی شي، چې د یوه کال لپاره له تاجیل څخه استفاده وکړي او د تاجیل د ترلاسه کولو لپاره د پوهنتون ریاست مقام ته عرض‌پاڼه وړاندې کړي.

- محصل د محصلانو چارو آمريت اړوند د ثبت او رجستر له عمومي مديريت يا له اړوند پوهنځي څخه د تاجيل معياري فورمه ترلاسه کوي او خانه‌پوري کوي يې.
- د تاجيل لپاره خانه پوري شوی فورم د محصلانو چارو معاونيت له خوا اړوند پوهنځي ته د اسنادو له مخې د نظر څرګندولو لپاره رجع کېږي.
- تدريسي مديريت يې د اسنادو له مخې معلومات وړاندی کوي، تر هغې وروسته د پوهنځي رئيس لاسليک او مهر پرې اخيستل کيږي.
- د پوهنځي د نظر تر څرګندولو وروسته د تاجيل فورم په اخيرنی برخه کې د پوهنتون رياست مقام له خوا امضاء او مهر کيږي .
- په پای کې د محصلانو چارو معاونيت د تاجيل طی مراحل شوی فورم اړوند پوهنځي ته په رسمي توګه ليږي.
- تدرئيسي مديريت د محصل وضعيت په اړوند سوانحو کې د تاجيل په توګه معامله کوي.

## د محصل د منفکی پروسه:

- هر هغه جديدالشمول محصل او يا برحال محصل چې د لومړي سمستر په ازموينه کې يې ګډون نه وي کړی؛ کولی شي، چې په تاکلي وخت کې منفکي واخلي .
- د منفکی د اخيستلو لپاره به محصل خپل دليل وړاندې کوي.
- د کانکور آزمويني بريالی محصل که غواړي، چې منفکي واخلي نو د پوهنځي د شموليت په موخه به د ثبتنام پاڼه نه طی مراحل کوي، ځکه چې د ثبت نام پروسې په پاې کې محصلانو چارو معاونيت د ثبت او رجستر عمومي مديريت له خوا په توحيدي لست کې منفک ګڼل کيږي او اړوند څانګو ته يې په اړه خبر ورکول کيږي .
- خو که کوم محصل پوهنځي ته د تدريس په غرض ثبتنام کړی وي او له سمستري ازمويني څخه وړاندې وغواړي، چې منفکي واخلي نو اړينه ده، چې د منفکی ځانګړې فورمه له محصلانو چارو معاونيت يا د پوهنځي تدريسي مديريت څخه ترلاسه کوي او  طی مراحل  کوي يې.
- وروسته تر هغې چې د منفکی فورم په پوهنتون کې طی مراحل شي؛ اصل يې د لوړو زده‌کړو وزارت محترم مقام او کاپی  يې  د ازمويني ملي اداري او اړوند پوهنځي ته د محصلانو چارو معاونيت له خوا د رسمي مکتوب په ذريعه ليږل کيږي.
- د ازمويني ملي اداري او د اړوند پوهنځيو له خوا ياد محصل منفک بلل کيږي او کولی شي، چې د چانس په لرلو سره د کانکور په ازموينو کې بيا ځلې ګډون وکړي.

## د محصل تبديلی پروسه:

- د تبديلی د موجوده لايحې له مخې د يوه پوهنتون څخه بل پوهنتون ته محصلان په لاندې توګه تبديلی کولی شي:
- هغه نارينه يا ښځينه محصلان چې معيوبيت او معلوليت ولري.

- هغه ښځینه محصله چې رسمي نکاح خط ولري.
- د لومړي پوهنتون له شپې پوهنځي څخه د دویم پوهنتون د شپې پوهنځي عیني رشتې ته.
- له دولتي پوهنتون څخه خصوصي پوهنتون عیني رشتي ته.
- د مرکز کابل له پوهنتونونو څخه د ولایاتو پوهنتونونو ته .

## د برحال محصل د شهرت اصلاح پروسه:

- کله چې د برحال محصل په شهرت کې غلطي راغلي وي، له تشخیص څخه وروسته د عرض‌پاڼې په وړاندې کولو سره غوښتنه کوي تر څو د نوموړي محصل شهرت اصلاح شي.
- عرض پاڼه د پوهنتون ریاست له مقام څخه محصلانو چارو معاونیت ته راجع کیږي.
- د محصلانو چارو معاونیت موضوع اړوند پوهنځي ته راجع کوي.
- محصل له تدریسي مدیر څخه د شهرت اصلاح ځانګړې پاڼه ترلاسه کوي او تر خانه‌پوري کولو وروسته یې اړوند پوهنځي ته سپاري .
- اړوند پوهنځی د محصل د شهرت ځانګړې فورمه طی مراحل کوي او محصلانو چارو معاونیت ته یې په مکتوبي توګه لیږي.
- د محصلانو چارو معاونیت د شهرت ځانګړې طی مراحل شوې پاڼه د لوړو زده‌کړو وزارت په شمول اړوندو ځانګو ته په رسمي توګه لیږل کیږي .
- اړونده ځانګې هم د نوموړي محصل شهرت تر اصلاح وروسته پوهنتون ته د اطمنان مکتوب رالیږي.
- که د جدیدالشمول محصلانو په شهرت کې غلطي موجوده وي په دې صورت کې د سمستر په لومړی اونی کې تدریسي مدیران په ټولګیو کې د شهرت اصلاح توحیدي فورم توزیع کوي .
- هغه محصلان چې په شهرت کې یې غلطي وي نو د فورم اړوند برخه اصلاح کوي او بیا یې تدریسي مدیریت ته سپاري.
- د پوهنځي تدریسي مدیریت په توحیدي توګه د جدیدالشمول محصلانو د شهرت اصلاح فورمونه په معین وخت کې محصلانو چارو معاونیت ته په رسمي توګه سپاري.

- محصلانو چارو معاونیت د جدیدالشمول محصلانو د شهرت فورمونه په توحیدي توګه په اړونده څانګو کې طی مراحل کوي.

## د برحال محصلانو لپاره د لیلیې او بدلاعاشي خدمتونه:

د لوړو زده‌کړو وزارت مقام د اوسنیو مقررو او لایحو له مخې د پوهنتون برحال محصل په هغه صورت کې د لیلیې او بدلاعاشي مستحق ګڼل کیږي، چې لاندې شرایط یې پوره کړي وي:

- چې د محصل استوګنځی د پوهنتون له ځایه ۳۵ کیلو متره فاصله ولري.
- ښوونځی یې په مرکز کې نه وي لوستلی.
- د دویم، دریم، څلورم او پنځم ټولګیو محصل د تېر کال دواړو سمسترونو نمرې له 65٪ څخه کمې نه وي.
- هغه محصل چې تاجیل یې استفاده کړی وي په هغه صورت کې مستحق ګڼل کیږي، چې اړوند شرایط یې پوره کړي وي.
- محروم او ناکام محصل د بیا برحال کېدو په لومړي کال د لیلیې او بدلاعاشي مستحق نه ګڼل کیږي، ترڅو یوه کال د درس لوستلو څخه وروسته، چې شرایط یې پوره کړي وي، مستحق ګڼل کیږي.
- د لیلیې او بدل اعاشي مستحق محصل په عیني وخت کې یوازې یو فرصت څخه استفاده کولی شي. مثلاً که یو محصل د په لیلیه کې شامل یوې نو د بدل اعاشي مستحق نه کیږي ترڅو یې چې د لیلیې اخراج نه وی شوی برخلاف د بدل اعاشي.